بسم الله الرحمن الرحيم

**د حزب التحرير مرکزي مطبوعاتي دفتر کمپاین: «له اسیرې جنات بیسبالوفای څخه ملاتړ!»**




**(ژباړه)**

نن سلګونه هغه روسي مسلمانان چې له حزب التحرير سره یوځای فعالیت کوي، د روسیې د جنایت کار حکومت له خوا د روسیې په زندانونو کې شپې او ورځې تېروي؛ روسي حکومت دغه مسلمانان په هغه دروغجنه فیصله کې په ترهګرۍ تورن کړل، چې په ۲۰۰۳م کې د روسیې د سترې محکمې له خوا صادره شوه او حزب التحرير يې د ترهګرو ډلو په نوملړ کې شامل کړ. د روسیې د محکمې د دغې بې ساري فیصلې پر بنسټ، سیاسي اسلامي حزب التحرير تروریستي حزب ګڼل کېږي. د حزب التحرير د غړو پر وړاندې د روسیې د قوانینو تشدیدول د روسیې د اساسي قانون د اصولو پر بنسټ نه، بلکې د ترهګرۍ د قوانینو پر اساس تصویبېږي، چې د محکومینو د بند موده پکې ۲۰ کلونو ته رسېدلې ده.

دغه قوانین په ښکاره ډول د روسیې په ټولو سیمو او سانت پترسبرګ ښار کې په ظلم او ستم سره پلې شوي دي، لکه څنګه يې چې په وروستیو کلونو کې لسګونه دعوتګران زنداني کړل. ۲۰۱۷م د نومبر په ۲۴مه د روسیې امنیتي ځواکونو د حزب التحرير د غړي دعوتګر عیسی رحیموف چې په ۱۲ کاله زندان محکوم شوی دی، مېرمن هم ونیوله. د عیسی رحیموف مېرمن له خپل روسي اصلیت څخه تېره او مسلمانه شوې ده او خپل نوم يې له «اللا» څخه پر «جنات بیسبالوفا» بدل کړی دی. جنات بیسبالوفا په دې دلیل چې له حزب التحرير سره فعالیت کوي ونیول شوه او هغه زندان ته چې مجرمان پکې

اوسېږي، وسپارل شوه، ورپسې زموږ د دې خور بند د ۲۰۱۸ م په جنوري کې دوه میاشتې نور هم تمدید شو، چې هغه به د ۲۰۱۸م مارچ تر ۱٦ مې د روسیې په زندان کې وي او هماغه ورځ به یې بله محکمه وي. الله سبحانه وتعالی فرمایي:

﴿قَدْ بَدَتِ الْبَغْضَاء مِنْ أَفْوَاهِهِمْ وَمَا تُخْفِي صُدُورُهُمْ أَكْبَرُ قَدْ بَيَّنَّا لَكُمُ الآيَاتِ إِن كُنتُمْ تَعْقِلُونَ﴾

[آل عمران: ۱۱۸]

*ژباړه: د هغوی له خولې څخه د دښمنۍ ښنبې ښکاري او هغه څه چې په زړه کې لري (له هغو بدخواهیو څخه چې ظاهروي یې). لوی دي موږ تاسو ته هغه ښنبې بیان کړي چې دښمن او دوست پرې وپېژنۍ، که عقل لرئ.*

نو د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر په جدي فعالیت سره د اسلامي دولت د تاسیس او د عاجزو مسلمانو ښځو پر وړاندې د روسیې د ظالم حکومت د کړنو او زنداني کولو د رد او تقبیح لپاره د «له اسیرې جنات بیسبالوفای څخه ملاتړ!» تر عنوان لاندې نړیوال کمپاین تر سره کوي.

اې مسلمانانو! موږ تاسو د رسول الله صلی الله علیه وسلم پر تګلاره د اسلامي دولت د تاسیس لپاره له حزب التحریر سره کار او فعالیت ته رابولو؛ دا د الله سبحانه و تعالی د رضا لاسته راوړلو لپاره یوازینۍ لاره ده او د اسلامي دولت په بیا تاسیس سره به مسلمانان د کفارو له قوانینو او د ظالمو حکمتونو له شره وژغورل شي. الله سبحانه و تعالی فرمایي:

﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ اسْتَجِيبُواْ لِلّهِ وَلِلرَّسُولِ إِذَا دَعَاكُم لِمَا يُحْيِيكُمْ وَاعْلَمُواْ أَنَّ اللّهَ يَحُولُ بَيْنَ الْمَرْءِ وَقَلْبِهِ وَأَنَّهُ إِلَيْهِ تُحْشَرُونَ﴾

[انفال: ۲۴]

*ژباړه: اې مومنانو! د الله سبحانه وتعالی او د هغه د رسول الله صلی الله علیه وسلم بلنې ته لبیک ووایاست، کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم تاسو ته د هغه څه په لور بلنه درکړي چې تاسو ته( مادي، معنوي، دنیوي او اخروي ژوند دربښي او وپوهېږئ چې الله سبحانه وتعالی د انسان او د هغه د زړه تر منځ حایل دی( او کولی شي چې انسان د زړه له غوښتنو او هیلو لرې کړي) او وپوهېږئ کله چې د الله سبحانه وتعالی په مخکې راټول شي حساب او کتاب به درسره کېږي.*

اې ربه! موږ سره مرسته وکړه! زموږ خور جنات بیسبالوفا، خاوند یې، د ظالمانو په زندانونو کې ټول اسیر مسلمانان او هغه مسلمانان چې د دعوت په لاره کې د ظلم لاندې دي، ته یې وساتې! اې ربه! کله چې ستا په مرسته مسلمانان اسلامي دولت تاسیس کړي، هغه ورځ راولې، ټولو هغو کسانو چې د اسلامي امت پر بچیانو یې ظلم کړی دی، سزا ورکړو! اې ربه! زموږ دعا قبوله کړه! آمین!.

**۱۴۳۹هـ.ق، د جمادي الثاني ۱۵مه**

**۲۰۱۸م، د مارچ ۳مه**

**ژباړن: علی عمار**